AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت ٢٠٢٥/١١/٢٠

# ښکته او پورته د افغان خاوره

زه مې د ژوند په ژبه نه پوهیږم
کله شي خوږ راته سندرې وایي
یا مې را یاده شي همزولي
سترګې مې تورې شي
تیاره جوړه شي
چې د واده په لومړي میاشت
کونډه شوه
او د وطن بچي
تیره اونۍ شهید شو
د خپلې خاورې
پر هغه کرښه
چې د دې خاورې بچو
کله منلې نه ده
د ولس سینه کې ننوتې چاړه
او له همدغه لورې
شپیته اویا کاله تیریږي
چې مو ولسونه مري
د ظالم پوځ بریدونه
وي نابېره او تپوس یې نه شي
د کرښې دواړه غاړې
د نمرود اور ته پراته
هره ورځ دوې ځغمې
د غم ښپیرې
د دواړو غاړو
په پرتو کلیو کې
د تنکیو هیلو درمند
د ځنګلي پوځ پر اورونو سوځي
هلته وي ناسته کونډه شوې ناوې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا لا هم سرې سترګې وې
د ځوانيمرګ جانان
د قبر جنډې
په خپلو اوښکو مينځې
او کله نابېره
د سباوون سپيدې
په جادويي پيغام کې
د زړه پر کور مې
د اميد بخرکې
بيا ځلوي
پورته د هسک پر سينه
د پاس اسمان ناوکۍ
د څوارلسمي سپوږمۍ
د مين زړه په راز کې
ډوبه ښکاري
ترينه چاپيره
رانيه ستورې
سترګکونه وهي
راته يو زيرۍ
د بدلون راکوي
چې د ولسونو
بيدارۍ مقام دی
د اوښتون پيغام دی
يو ستر بدلون روان  دی
خو چې ماښام شي
د ګاونډي په کور کې
يتيم بچي د ژړا غږ وي
د دروازې اواز ته يې سترګې پاتې
يا يې د خوب پر کټ
د شپې تياره
په شومه دم
خپله ژړانده مورکۍ
د کونټانه په تور پوړنې
د يتيم زوي او خپلې اوښکې
په ماښامي کې پرې تيارې رونوي
اخوا بيا ناسته کوژده شوې پيغله
ترينه ورک شوی، لا درکه لالی
د بيلتانه  فراق کې
سوې ساندو په شور
د تېل شوې کربښې غاړې ته ځې
د بورې مور په سوو ساندو کې يې
ساه سوځې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

او په فراق کې يې
د غم سندرې وايې
داسې بې شميره
د دې خاورې زلمي
د خونړي پوځ دسيسو
د موخو ښکار، ګوانتانامو
کې ورک دي
دلته سوکه سوکه
يو ځل بيا مې ګوګل وسوځيږي
ناهيلې وغځيږې
د اوښتون او د بدلون نښې
په لټولو پسې سترۍ ذهن
وي سرګردانه راته وغږيږې
چې ولس به کله؟
په خپل حق وپوهيږي
پوهه به يې دومره شي غښتلې
چې په يو غږ سره راټول شي
او د لر بر ولسونو
په غوږ شپيلۍ د اسرافيل شي
د انقلاب ناره کړې پورته

بيا يو ستر افغانستان جوړ کړي
بيا يو ستر افغانستان جوړ کړي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ